مجله علمی سلام

Salam Academic Journal

*Journal Homepage:* https://www.resaearch.salam.edu.af

سال هشتم، دور دوم، شماره ۴، خزان سال ۱۴۰۲هـ ش

# د افغانستان د نوي کيدونکي انرژۍ سرچينې: ننګونې، د پاليسی چوکاټ، او سپارښتنې

عزت الله زهير[1]

ORCID: https://orcid.org/0009-0007-1854-1947

دکتور عبدالله صادق[2]

ISSN: 3078-9575 (Print)

ISSN: 3078-9583 (Online)

تاریخ نشر: ۱۴۰۲/۱۲/۲۰

تعداد صفحات: ۱۴

از صفحه ۷ تا ۱۹

**لنډيز**

افغانستان، چې يو مخ پر ودې هېواد دی، په پام کې لري چې تر ۲۰۳۲ کال پورې د خپلې برېښنا ۱۰ سلنه د تجديد وړ سرچينو څخه توليد کړي، تر څو په وارداتي برېښنا انحصار، د کليو د برېښنا تشې او د چاپېريال د خرابوالي په څېر ننګونو باندې بريالي شي.

دا لنډه څېړنه د ثانوي معلوماتو راټولولو د ميتود په کارولو سره د بالقوه امکاناتو ، اوسني ظرفيت او راتلونکي پلانونو په شمول د افغانستان د نوي کيدونکي انرژۍ منظرې پراخه بياکتنه وړاندې کوي. د اوبو، لمر، باد او بايوماس په برخه کې د نوي کيدونکي انرژۍ د پراخ ظرفيت سره سره، په دې اړه په هېواد کې ننګونې لکه ناځرګنده پاليسي، محدود متخصص کدرونه، امنيتي خطرونه، او د عامه شکيلتيا په مخ کې خنډونه شتون لري.

د دې خنډونو د له منځه وړلو لپاره، د نوي کيدونکي انرژۍ اړوند د روښانه ملي پاليسي درلودل، د اداري ظرفيت لوړول، او عامه - خصوصي مشارکت ته وده ورکول مهم دي. په دغو ننګونو باندې بريالي کيدل کولی شي له افغانستان سره د نوي کيدونکي انرژۍ د اهدافو په ترلاسه کولو کې مرسته وکړي، پداسې حال کې چې د سولې رامينځته کېدل، د دولت جوړونې هڅې، او د اقليم د بدلون د خطرونو د راکمولو هڅې هم په دې کار کې ګټور واقع کېدلی شي.

**کليدي کلمې: افغانستان، ظرفيت لوړول، د تجديد وړ انرژي، انرژۍ ته لاس رسی، برېښنا، د انرژۍ پاليسي.**

[1]. د سلام پوهنتون د اقتصاد پوهنځی استاد، 8234 775 77 93+، Azatutllahzaheer28@gmail.com

[2]. د سلام پوهنتون د اقتصاد پوهنځی استاد، 5750 796 78 93+، Abdullah.sadiq88@gmail.com